قيامت به تر هغه پورې رانشي تر څو تاسو له يهودو سره جنګ وکړئ، تر دې چې هغه تېږه اواز وکړي چې يهودي يې تر شا پټ شوی دی - او ووايي - اې مسلمانه زما شاته يو يهودی دی، نو هغه ووژنه

ابو هريرة - رضي الله عنه - له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي يې دي: «قيامت به تر هغه پورې رانشي تر څو تاسو له يهودو سره جنګ وکړئ، تر دې چې هغه تېږه اواز وکړي چې يهودي يې تر شا پټ شوی دی - او ووايي - اې مسلمانه زما شاته يو يهودی دی، نو هغه ووژنه».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې: قيامت به تر هغه وخته پورې نه راځي تر څو مسلمانان او يهود يو له بل سره ونه جنګيږي. تر دې چې کله يهودي وتښتي تر څو د تېږي شاته له مسلمانانو څخه پټ شي؛ نو الله تعالى به تېږه ګويا کړي او مسلمان ته به غږ وکړي چې شاته يې يهودي دی، تر دې چې ورشي او ويې وژني.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65023